ژباړونکی : پوهنمل حاجی محمد نوزادی  ۲۰۰۹/۰۸/۰۵م

# دافغانستان د دیپلوماسۍ له تاریخ نه څو دیادوني وړ خبری

پرکبلیو باندی رحم د سپو نشی        درقیب لاسونه مه کړی پردلبر بر

د روان ۲۰۰۹ کال د می په میاشت مسکو ته تللی وم . دهمدی میاشتی په ۲۲ نیته ( داولسونو د دوستی روسی پوهنتون ) او دهمدی پوهنتون سره تړلو مسکومیشتو افغانانو د افغانستان او روسیی ترمنځ د دوستۍ تړون د ۹۰ - یمی کالیزی په اړوند د یوه کنفرانس رابلل له پخوا نه په پام کی نیولې وه . کنفرانس ته د روسیی له بهرنه څوک بلل شوی نه وو . خو زه چی بیله هغه هلته وم نو دکنفرانس د جوړونکي دلې افغاني کسانولخوا دنورو مسکو میشتو فرهنګپالو افغانانو په ډله کی ور وبلل شوم . نوموړی کنفرانس ته ,, دنړیوالو مناسباتو نوی سیستم د منځته راتلو دپروسی سره په تړاو کی د روسیي - افغانستان اړیکی ،، د سرلیک په توګه ټاکل شوی وو . که څه هم کنفرانس د نوموړی پوهنتون په یوه واړه سالون کی پرانیستل شو او د رابلل شوو ګډون کونکو شمیر یی هم ډیر زیات نه وو , خو هلته د یولړ پوهانو لخوا په زړه پوری مقالې وړاندی شوی . ما ته د پروفیسورکارګون ویکتور ګریګوریویچ مقاله ترټولوپه زړه پوری ښکاره شوه . دی د روسیی دعلومو په اکاډمۍ کی دختځ پیژندنی انستیتوت دافغانستان دسکتورمشر دی . دده دلیکنې سرلیک داسی وو : ,, دافغانستان د دیپلوماسۍ دتاریخ یو څو پاڼی،، . هلته ده په ځانګړی توګه ( تراستقلال وروسته په خارجی سیاست کی دافغانستان لومړی ګامونو ) ته پام اړولی وو . دتفریح پر مهال می له هغه نه دده دمقالی یوه کاپی ترلاسه او د ژباړلو اجازه می هم تری نه واخیستل چی دادی دافغانستان داستقلال ( د اسد ۲۸ ) دکالیزی په درشل کی یی لوستونکو وړاندی کوم . په لیکنی کی ځینی خبری ماته نوی ښکاره شوی اوغوښته می چی په څو کرښو کی په هکله خپل دنظر ټکي هم ولیکم . خو داچی له یوی خوا زه تاریخپوه نه یم او له بلې خوا نوموړی پوهاند هلته په مقاله کی اخځ ځایونه ښودلي ندی , ځکه نو لدی نه تیر سوم . دلیکنې منځپانګه څرګندوی چی امیرامان الله خان دهغو ناروا تورونو په خلاف چی دانګریزنو د پروپاګندو لخوا وړپوری تړل شوی وه او دده سیاست یی داسلام ضد باله , دی یو پراسلام او وطن مین پادشاه وو . همدا لامل وو چی دغه ځوان او ترلویه بریده بی تجربی افغان ټولواک د دوو پخو او مکارو لیوانو ( برتانیه او روسیه ) تر منځ ګیر راغی او په ډیری بی رحمۍ سره یی دده د پرمختیا غوښتکي غورځنګ وځپلو ته لاره هواره کړه . د درنو تاریخپوهانو او پدی برخه کی د اړوندو وطنوالو نه هیله لرم که یی د ردولو یا تائید ولو په هکله دیادونی وړڅه خبری لری , زما غوندی لوستونکو سره یی شیریکی کړی .
په درنښت او مننی سره مو دادی دمقالې پښتو ژباړی ته پام راګرځوم :

تراستقلال وروسته په خارجی سیاست کی دافغانستان لومړی ګامونه پرتخت دکښیناستلو سره جوخت امیرامان الله خان دخارجی سیاست په داډول درو برخوکی اوچت ګامونه واخیستل لکه : دشوروی اتحاد سره د دیپلوماتیکو اړیکو ټینګول ، دبرتانیی سره دمناسباتو دتدریجی نورمال کولو په لور هڅی او همدارنګه داسلامی نړۍ دمشرتوب ترلاسه کولو په موخه هلې ځلې .

شاه امان الله تر ټولو وړاندی په روسیه کی د منځته راغلو بدلونونو ( داکتوبر انقلاب او ورسره تړلې دکورنی جګړی شخړي . ژباړ. ) څخه د ګټې اخیستلو په هیله لیڅی راو نغښتلې . په ۱۹۱۹ کال ده او دده دخارجی چارو وزیر محمود طرزی په ترتیب سره خپلو سیالانو دشوروی دولت مشر و. ی. لینین او دخارجی چاورو وزیر ګ. چیچیرین ته پیغامونه ولیږل . امان الله خان شوروی مشر ته پخپل پیغام کی دسلطنتي واک ترلاسه کولو دخبر په ترڅ کی د اوولسونو ترمنځ دبرابرۍ او دټولو خلګو دسوله ایز یووالې په هکله یادونه کړی وه . محمود طرزی بیا خپل شوروی سیال ته په پیغام کی داهیله څرګنده کړی وه چی هرڅه ژر ددواړو هیوادونوترمنځ د دوستۍ اړیکی ټینګی شی . څه موده وروسته د محمد ولې خان په مشرۍ مسکوته افغانی هیات ولیږل شو چی خپل منځی دیپلوماتیکی چاری سمبالې کړی .

محمد ولې خان دلینین سره وکتل او دشوروی روسیی سره یی دیوه نظامی تړون وړاندیز ورته وکړ. داچی مسکو لاتر دی مهاله و داسی تړون ته پوره تیاری ندرلود نو یی ددی پرځای دافغانستان سره یوازی دهراړخیزو مرستو وعده وکړه . ددی کار سره سم شوروی روسیی هم کابل ته خپل دیپلوماتیک هیات ولیږه . امان الله خان هیات خپل حضورته ومانه او ورسره جوخت د افغانستان سره د دوستۍ دتړون پر اوملیک ( مسودی ) باندی کار پیل شو . څرګنده ه چی دواړه اړخونه دغه تړن ته لیوال وه : افغانستان دی ته اړتیا درلوده چی استقلال یی په رسمیت وپیژندل


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.

شی . روسیه بیاچې پدی وخت کی داکتوبر ترانقلاب وروسته دبرتانیی په مشری د ۱٤ هیوادونو دمداخلي سره لاس او گریوان وه , دافغانستان لخوا واخلاقی او سیاسی ملاتړته اړه وه .
داچی په ۱۹۱۹ کال دمسکو او کابل ترمنځ تگ راتگ دځو میاشتو دپاره بند شوی وو , نو شوروی هیات دمسکو نه دهدایت تر لاسه کولو په هیله دانتظار په حالت ناست پاته شو . دهدایت نه را رسیدو سره سره بیاهم هیات امان الله خان ته د په زړه پوری نظامی مرستو وعدی ورکولې . پدی توگه دکابل مذاکری پیچلې شوی او ډیروخت یی ونیوی . داځکه چی :
۱ - امان الله خان دمسکو دتوقع په خلاف دبخارا استقلال په رسمیت وپیژندي اوهمدارنگه یي دبخارا امیر سیدعالم خان ته دبلشویکانو سره په جنگ کی دده دملاتړ په موخه وسلي او ان سربازان ورولیږل .
۲ - روسانو هیله درلوده چی په هند کی دانقلابی چارو دتنظیمولو سره مرسته وکړی او پدی موخه دافغانستان دلاری دشمالي هندوستان خلکو ته وسلي ولیږی څو هلته داستعمار پرضد مبارزو کی تری نه کاروا‌خلي .
په پای د۱۹۲۰ کال دسپتمبر په ۱۳ نیټه په کابل کی د دواړو هیوادونو تر منځ د دوستی تړون لاسلیک شو .
دی تړون دبرتانیی سره په خبرو اترو کی دافغانستان دریځ پیاوړی کړ . برسیره پر دی , ددی تړون له مخی افغانستان ته د روسیی د لاری د هر ډول مالونو پرمخ د بی محصوله ترانزیت لاره پرانیستل شوه اوهمدارنگه هرکال دیوه میلیون طلایی روبلو ورکول اونوری مرستي هم په پام کی نیولي شوی وی .
له دی نه پرته د تړون په ۸ ماده کی ,, د اداری د شکل په نظر کی نیولو نه پرته دبخارا او خیوا رښتینی استقلال ،، هم منل شوی وو . ددی تولو برسیره مسکو داهم منلي وه څو هغه سرحدی ځمکی لکه پنجدی او ورسره ترلي سیمی چی په ۱۹ پیړی کی دافغانستان خاوره وه او روسیی ورنه لاندی کړی وی , بیرته افغانستان ته ورکړی .
افغانستان بیا دخپل لوری نه په تړون کي دامنلي وه چی دهیڅ هیواد سره به داسی یوه نظامی یا سیاسی تړون ته غاړه نه ایږدی چی د روسیی گټوته زیان رسوی او همدارنگه به شوروی روسیی ته اجازه ورکوی څو د افغانستان په پنځو سیمو کی خپلي قونسلگری پرانیزی .
کله چی انگریزانو دافغانستان د استقلال په رسمیت پیژندلو نه ډډ وکړه نو شاه امان الله مجبورشو په ۱۹۱۹ کال د برتانیی په وړاندی دجنگ اعلان وکړی . ځینی څیړونکي د امان الله خان دا اقدام دده دپلار امیر حبیب الله د وژلو سره تړی چی په پایله کی یی ځوان امان الله د واک چاری تر لاسه او خلگ یی داستقلال په مینه پر ځان راټول کړه . دوی لیکی - امان الله لدی نه ډار درلود چی خلگ به دی دخپل پلار په وژلو کی دلاس درلودلو په تور متهم او په اغتشاش به لاس پوری کړی , ځکه نو ده ددی دپاره چی دخلگو پام بل لوری ته واړوی , د افغان - انگلیس دریم جنگ ته ملا وتړل او پدی توگه یی دخلگو قهر دهغوی د دودیز دښمن په لور چی برتانیه وه , را واړاوه ( ترهغه ځایه چی مالوستی دی , داخبره دهغو څیرونکو نظر دی چی دامان الله خان دشخصیت دبرجسته کیدلو سره یی مخالفت او دانگریزانو سره یی خواوړی درلوده . ددغی موضوع تر اغیزی لاندي اوس هم دتنگ نظرو نیشنلیستانو ځینی کړی په خپلو کی پر دا ډول خبرو شخوند وهی . ژباړونکی ) .
خو دانظر دواقعیت سره سمون نلری . امان الله ان په خپلي لومړنی بیانیی کی خپلو پلویانو ته وعده ورکړه چی تر بشپړی ازادی پوری به لاره ووهی او همدغه وعده وه چی خلگ یی دملاتړ په موخه پرځنگ ودریدل .ده دا ټینگ عزم کړی وو چی یا به دسوله ایزو خبرو اترو دلاری او یا که داسی ونه شول نو دجنگ دلاری به تر بشپړی ازادۍ پوری ځان رسوی . په ۱۹۱۹ کال نور هغه وخت را رسیدلي وو چی هیچا بیله یوه ازادی غوښتونکی شاه نه دافغانانو مشرتوب کولای نشو .
د ۱۹۱۹ کال داپریل په ۱۳ نیټه دیوی درباری وینا په ترځ کی امان الله اعلان وکړ : ,, . . . . زه خپل هیواد دنړی د نورو ازادوهیوادونو تر څنگ دیوه کامل ازاد هیواد په توگه اعلانوم . هیڅ خارجی هیواد ته به اجازه ورنکړم چی زموږ په کورنی یا بهرنی چارو کی لاسوهنه وکړی . که هر چا دی کار ته زړه ښه کړ , پدغه توره به یی غاړه وریری کړم ،، . ددی سره جوخت امان الله فرمان لاسلیک کړ او هلته یی پر دی خبری ټینگار کړیدی چی دی دخلگو دارادی له مخی د افغانستان امیر وټاکل شو او پدی شرط یی دا مسئولیت ومانه چی هیواد به یی پخپلو کورنیو او بهرنیو چارو کی بشپړ ازاد وی .
انگریزانو بیا دافغاستان سره دمناسباتو دساتلو پخاطر لاندی شرطونه وټاکل :
۱ - دافغان دولت پرخارجی اړیکو باندی دکنټرول واک درلودل .
۲ - دافغانستان څخه دټولو خارجی اتباعو ډیر ژر ایستل .
۳ - دخپلو دندو څخه د محمود طرزی او عبدالقدوس خان لیری کول .
د انگریزانو لوړو شرطونو ته امیرامان الله داسی ځواب ورکړ : ,, افغانان مړینه منی خو دهیڅ خارجی دولت اوامرو ته غاړه نه ایږدی ،،
دیادونی وړ ده , لدی خبری نه ۷۰ کاله وروسته په ۱۹۷۷ کال اولسمشر محمد داود چی دمحمود طرزی یو رښتینی سیاست پلوی مشر وو , په مسکو کی دخپل رسمی سفر پرمهال دامیر امان الله پورتني ځواب ته ورته خبره وکړه . ده د شوروی مشر لیونید برژنیف ددی غوښتني په ځواب کی چی باید دلودیزو هیوادونو ټول ماهران


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسؤلیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.

دافغانستان دشمالی برخو څخه وایستل شی , په ډیره تنده ژبه داسی وویل : ,, موږ به هیڅکله هم هیچاته اجازه ورنکړو چی زموږ دخپل هیواد په اداره کولو کی راته خپل نظر دیکټې کړی او یا راته ووایی چی دکوموهیوادونو ماهران خپل هیواد ته را وبولو او دکومو هیوادونو ماهران له خپل هیواده وباسو , دا یوازی او یوازی دافغان دولت ځانګړی صلاحت دی چی دکوم هیواد ماهران دافغانستان په کومه برخه کی په کار وګماری . که بله هیڅ چاره پیدا نشی , افغانستان به دا ومنی چی غریب او نادار پاته شی مګر په خپلوکړنو او پریکړو کی به ازاد و اوسې ،، .

امیر امان الله دافغانستان دخارجی سیاست په اړه دیوه سپړونکې لیک په ترڅ کی دهند ویسرا ته ولیکل : ,, افغانستان د اوږدو کلونو په موده د دوو دولتونو - برتانیی او روسیی تر منځ فشارونه وزغمل . زموږ دهیواد برخلیک تل ددغو دوو یو له بل سره دښمنو دولتونو لخوا ټاکل کیدی چی په پایله کی مو لومړی دخپل هیواد شمالی برخی له پنجدی او کوشکه له لاسه ورکړی اود تیز غابښي لیوه تر ستوني تیری شوی . همدارنګه زموږ دهیود پراخی جنوبی او لودیزی برخی ستاسی دهیواد لخوا اشغالې شوی شوی . پدی توګه چی کله ددغو دوو دښمنو هیوادونو ترمنځ دوستی ټینګه شوه , نویی و پتیئل چی زمو هیواد تر خپل منځ ,, په وروړګلویز ډول ،، سره وویشې . داهغه چاری دی چی له مخی یي زموږ سره دوستی په دښمنۍ واوښتل ،، .

د برتانیی سره په خپلو مناسباتوکي , امیرامان الله دپخوا پشان انګریزان ودفاع کولو ته اړ یستل . د ۱۹۲۰ کال دفیبروری په ۲۳ نیټه , ده دبرتانیی مرستیال ټولواک نه غوښتنه وکړه څو دهغه هیات په لیږلو کی ورسره مرسته وکړی چی ده لندن ته دلیږلو په موخه ټاکلې وو . دهیات دنده داوه چی د خلافت او حرمینو شریفینو - مکی او مدینی دبرخلیک په هکله دانګلستان د اعلحضرت په نظر باند ځان خبر کړی .

پدی ترڅ کی د ۱۹۲۰ کال داپریل په میاشت دهندوستان په میسوری ښار کی دافغانستان اوبرتانیی ترمنځ د اړیکو دعادی کولو په موخه خبری اتری پیل شوی دافغانستان لخوا دهیات مشر محمود طرزی او دبرتانیی لخوا په هند کی دخارجی چارو سکرتر هنری دابس دهیات مشرې کول . د راتلونکې تړون په لار کی ډیر خنډونه پراته وه . په پیل کی انګریزانو دافغانستان داستقلال منلو ته غاړه نه ایښوده او غوښتنه یی کول چی کابل باید دسرحدی پښتنی قبایلو له ملاتړ نه لاس واخلې . دوی همدارنګه پرافغان دولت فشار اچاوه چی دشوروی دولت سره دخبرو اترو نه پر شا سی .

دخارجی چارو افغان وزیر محمود طرزی دهغه راتلونکی تړون نه چی دافغانستان او شوروی دولتونو ترمنځ د لاسلیک دپاره دامادە کیدو په درشل کی وو ، دبرتانیی سره دخبرو اترو پروخت دیوی وسلې په توګه په پور مهارت کاروا‌خیست . دخبرو اترو دلومړی دور نه دپام وړ پایلې تر لاسه نه شوی . دامهال په کابل کی دافغانی او شوروی استازو ترمنځ هم خبری اتری روانی وی چی دشوروی سفیر ی. سوریڅ پرمخ بیولې . کله چی دانګریزانو سره دخبرو لومړۍ دوری نتیجه ورنکړه , افغان لوری په ډیری خوښې دشوروی استازی سر تړون لاسلیک او متن یی دتائید په خاطر مسکوته ولیږل شو . پدی تړون کی له هغه نه چی مسکو خپل استازی ته سپارښت کړی وو , لږ څه زیات امتیاز دافغان لوری دپاره په پام کی نیول شوی وو . ځکه نو کرملین دتړون منظورول نه غوښته او له لاسیک نه یی ډډه کول .

افغان لوری ته ددغه لږ امتیاز سره هم دشوروی استازی دموافقی لامل دا وو چی له یوی خوا د داړه مارانو ځیني ډلې به تل دشوروی ترکمنستان لخوا د افغانستان خواته په غلا رااوښتلې او دځایی اوسیدونکو مالونه او رمی به یی ورنه غلا کولې او ترکمستان ته به یی اړولې چی د افغانانو دشکایت سبب ګرځیدلې وو . ددی لږ غوندی امتیاز بل لامل هم داوو چی دافغان دولت دمخالفت سره سره , بیاهم دسره اردو لخوا دبخارا امیر رانسکورشو . داکار دتړون دلاسلیک نه یوازی څو ورځی وړاندی تر سره او داسی ښکاریده چی ددی کار له مخی به د دواړو غاړو ترمنځ خبری بیله نتیجی پای ته ورسیږی . دی پیښی انګریزانو ته دابتکار اخیستلو چانس پلاس ورکړ . مګر داچانس دانګریزانو دلاسه پدی خاطر ووت چی افغان دولت اخر ځان دیوه انجام شوی عمل په مقابل کی مجبور وګاڼه څو دبخارا داشغال نه سترګی پټی اوپدی هکله نور دخواشینۍ نه لاس واخلې . امان الله خان و دی پایلې ته ورسیدی چی په کارده په تړون کی خپلو ګټو ته پا م واړول سی او دشوروی دولت سره دوستې د بخارا د امیر قربانې نشی . بیا یی هم د بخار امیرته په افغانستان کی پناه ورکړه . دیادونی وړ ده چی لدی نه وړاندی امان الله خان څوځلې داګواښ کړی وو چی که روسان پر ( بخارا شریفی ) باندی حمله وکړی , دی به مزار شریف کی خپلو وسله والو قواوو ته امر وکړی چی دبخارا دامیر ملاتړته ور ودانګې او دهرات ګارنیزون ته به حرکت ورکړی چی بیله ځنډه دترکمنستان سره سرحدی ښار کوشکه اشغال کړی .

لندن پدی وخت کی سترګی په لار وو چی ښایی امان الله خان به د روسانو په وړاندی د بخارا دملاتړ پخاطر له انګریزانو نه مرسته وغواړی . مګر ده دا کار ونکړ او یوازی یی برتانیوی هیات دمذاکرو دپاره و کابل ته راوباله . کله چی نوموړې هیات کابل ته راورسید نو بیله ځنډه یی له افغان دولت نه وغوښته چی دسرحدی پښتنی قبایلو سره خپلې اړیکی وشکوی . پدی اړه یی افغانستان ته د سبسایډیو او مرستو وعدی ورکړی . دوی له افغان چارواکو نه داغوښتنه هم وکړه چی شورویانو ته اجازه ورنکړی څو ددی هیواد په جنوب لودیز کی ځانته د قونسلګریو دفترونه پرانیزی . پدی مهال شوروی او برتانیوی خواوو په لندن کی یو تجارتی تړون لاسلیک کړ چی ورسره سم بلشویکانو


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.

نور دبرتانیوی هند سره دافغانستان په سرحدی سیموکی دقونسلګریو پر پرانیستلو باندی له ټینګار نه لاس واخیست . په همدی وخت کی د محمد ولي خان په مشری افغاني دیپلوماتیک هیات په لندن کی په ساړه هرکلي سره ومنل شو او نوموړی هیات لدی کبله دبرتانیی داعلحضرت سره دملاقات نه ډډه وکړه . دی خبری یوار بیا افغانان پدی باندی ډاډه کړه چی انګریزان به هیڅکله هم دافغانستان دبشپړی ازادۍ سره پخلا نشی او داهیله به دلاسه ورنکړی چی افغانستان لاهم ترخپلې اغیزی لاندی پاته راولي . امان الله خان چی د انګریزانو لدی ډول غیردوستانه موقف نه په ژوره توګه مایوس شو نویی دشورویانوسره تړون تائید او د ۱۹۲۱ کال داګست په میاشت کی یی هغه لاسلیک کړ . پدی وخت کی کابل ته شوروی سیاسی استازۍ ف. راسکولنیکوف راورسید او له ځان سره یی دهغو ټاکل شوو یو میلیون روبلو سبسایډۍ نیمه برخه دمخکی وړاندی کولو په توګه راوړه . ده همدارنګه دوی دانی ایروپلاټن ( الوتکی ) هم افغان دولت ته وسپارلې , خو دسرحدی خاوری پنجدی له بیرته ورکولو نه یی ډډه وکړه . وروسته شورویانو خپل ددی کار لامل دا وګاڼه چی ګویا دپنجدی ځایی اوسیدونکو دا تقاضا کړی وه چی دپخوا پشان د روسیی په ترکیب کی پاته شی . پدی ډول دپنجدی خبره کرار رار د دواړه هیوادونو لخوا هیره او شاته وغورځول شوه . لدی نه لږ موده وروسته افغانستان په مسکو کی دخپل سفارت سره په تړاو چی سفیر یی میرزامحمدخان یفتلي وو , دخپلو قونسلګریو ځانګی په تاشکند او مروه کی پرانیستلې . روسیی هم په هرات , میمنې او مزرشریف کی دخپلو قونسلګریو په پرانیستلو لاس پوری کړ .

دبرتانیوی هیات مشر هانری دابس لاهم په کابل کی ناست او هڅه یی کول څو دافغان لوری سره دګاونډیتوب دښو اړیکو تړون د لاسلیک لپاره اماده کړی . امان الله خان هم نور دا درک کړی وه چی هیواد یی د روسیی پشان د انګلستان سره هم د ښو اړیکو درلودلو ته اړتیا لری . ده دا اړینه بلل چی ددغو دوو سترو هیوادونو ترمنځ په عنعنوی سیاست کی یو بیلانس ( تعادل ) وساتل شی . هغه وو چی دهمدی ۱۹۲۱ کال په نوومبر کی محمود طرزی او هانری دابس په خپلو کی یو تړون لاسلیک کړ . په تړون کی دافغانستان استقلال په رسمیت وپیژندل شو خو د ډیورنډ کرښه د دواړو هیودونو ترمنځ دسرحد په توګه پاته شوه . ددی سره سم افغانستان د عبدالهادی داوی په مشرۍ په لندن کی افغانی سفارت او په هند کی دقونسلګرۍ ځانګه پرانیستل . امیرامان الله خان دتړون دلاسلیک کولو پرمهال وبرتانیوی هیات ته وویل چی دا د دوستۍ تړون نه بلکه دګاونډیتوب دښو اړیکو یو تړون دی . ددی سره سره چی تړون لاسلیک هم شو , خو دافغانستان او برتانیی ترمنځ اړیکی دپخوا پشان ترینګلې پاتی شوی , داځکه چی دواړو خواوو یوپربل باور نه درلود او تر ډیره وخته یی یو له بل سره ګډه ژبه پیدانکړه .

امیرامان الله دخپل سلطنت په لومړیو کلونو کی پان اسلامیزم دخپل سیاست بنسټ ټاکلی وو اوپه شدت سره یی پرمخ شاړه . دی پدی اند وو چی دیوی سیاسی موسسی ( انستیتوت ) په توګه دخلافت په له منځه وړلو کی د اروپایی هیوادونو هلې ځلې اسلامی نړۍ ته ګواښ ( تهدید ) او خطر پیښوی . په هند کی اسلامی مشرانو چی دترکیی دسلطان تر روحانی اغیزی لاندی یی خودمختارې غوښته , دوی داګواښ کاوه چی که دخلافت مسئله دهندی مسلمانانو دغوښتنی سره سم حل نشی نو دوی به یاجهاد اعلان کړی اویا به له هند نه کډه وکړی . امان الله خان په پریکنده ډول ټول مسلمانان د یوموټی توب پخاطر راوبلل چی د خلافت ملاتړ وکړی او دپاک خدای په لاره کی خپل سرونه قربان کړی . ددغه شعار سره یو ځای ده دپرمختیا او مودرنیزه کولو شعار هم وړاندی کړ . دده په اند دا یوازنۍ لاره وه چی اسلامی نړۍ یی له ړنګیدلو نه ساتلای شوه .

په ۱۹۲۰ کال کی دامان لله خان دپورتنۍ غوښتنې سره سم ډیرو هندی مسلمانانو له هغه هیواد نه پښی سپکی او ۱۸ زره تنه یی افغانستان ته رامهاجرشول چی امان الله خان یی تود هرکلی وکړ . له دوی نه ځینی کسانو امان الله خان ته داوړاندیز هم وکړ چی پر هندوستان یرغل وکړی او مسلمانان یی دانګریزانو له منګلو ازاد کړی .

امیرامان الله دخپلې دغی عقیدی له مخی په شوروی ترکستان کی هم د شوروی ضد باسماچی جنبش ( # ) د مشرانو سره اړیکی ونیولې او هغوی ته یی دشوروی قواوو سره په جنګ کی مادی او نظامی مرستی ورکړی . په منځنی اسیا کی دافغان دولت داډول سیاست دساده پان اسلامی عقیدی له چوکاټ نه وتلی ښکاریده . دبخارا ازادی کیدلای شوه د روسیی او دنوموړی دولت دګټو پرضد په افغانستان کی په یوه جنجال واوړی . دپان اسلامیزم پلویان هیله من وو چی د روسیی څخه دبخارا بیلوالۍ کیدلا شی د مرکزی اسیایی کانفدریشن دپاره یوه هسته وګرځی چی دامیر امان الله خان په مشرۍ به افغانستان هلته اغیزمن او ټاکونکۍ رول ولری .

دامان الله خان دا ډول ستر پلانونه چی غوښته یی دټولې اسلامي نړۍ مشرتوب پرغاړه واخلې , په پای کی دماتی سره مخامخ شول . دده دغو پان اسلامیستی نظریاتو په لندن او مسکو دواړو کی حساسیت راوپاراوه . مسکو په منځنی اسیا کی دخپل واک په غزولو او ټینګولو سره په متودیک ډول دافغانستان لاس لدی سیمی نه لنډ کړ . کرملین له افغانستانه وغوښته چی نور نو په بخارا کی خپل سفارت وتړی او لامل یی دا وښود چی افغانی سفیر هلته دشوروی ضد باسماچی مشرانو سره اړیکی ساتلې . دباسماچی غورځنګ په ماتی سره افغانستان په منځنۍ اسیا کی خپل ټول اغیزمنتوب له لاسه ورکړ . نوموړی سیمی نور دشوروی امپراتوری په ترکیب کی ورکښیوتې او هلته منحلې شوی .

هغه هندی مسلمانان چی افغانستان ته راکډوال شوی وو , ډیرۍ یی خوار اوغریب خلګ وو چی یوازی په تاوده هرکلۍ سره یی درد دوا کیدلای نشو . دوی دهر اړخیزو مرستو په هیله دلته را کډه شوی وو . داچی افغانستان د



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.

دا ډول پوره مرستو دپاره پراخې مالي سرچيني نه درلودی , نو دهغوی برخلیک دپریشانی او خواشینی سره مخامخ شو . دافغانستان محدود مالی امکانات او تنگ جغرافیوی موقعیت ددی هیواد امیر ته دپراخ لگښت لرونکي پان اسلامیستی فعالیت چانس نه ورکاوه . ځکه نوامان الله خان مجبور شو چی لدی پلان نه تیر او بیرته په سیمه کی د دوو لویو دولتونو تر منځ دتعادل تینگولو و دودیز سیاست ته مخ واړوی .

دانگریزانو سره د ترون دلاسلیک نه وروسته هم په ۱۹۲۲ کال ده د خپلو پلویانو په وړاندی ټینگار وکړ چي لا اوس هم دمسلمانو دبرخلیک , دسرحدی پښتنی قبایلو سره د مرستی او همدارنگه دخلافت مینه وال دی . خو په عمل کی یی سیاست دنړی دټولو هیوادونوسره د دوستی او ښو اړیکو د ټینگولو په لور روان وساته . پای .

( # ) - باسماچی دترکی کلیمي ( باسماک ) نه ریښه اخلی چی دحملي اویرغل مانا لری . په روسیه کی داکتوبر تر سوسیالیستی انقلاب وروسته دروسی امپراتوری په ترکستانی سیمو کی لکه ازبکستان ، قرغیزستان , قزاقستان , ترکمستان او همدارنگه تاجکستان کی دبلشویکی قدرت پرضد دمقاومت یو غورځنگ راپیل شو چی دمبارزی شکل یی تر لویه بریده دترپ او خرپ پارتیزنی حملی وی . دغه مقاومت هغه وخت دباسماچی حرکت پنامه یادیده چی دشوروی واکمنی پرمهال دانقلاب او اولس ضد عمل شمیرل کیده او ډیره حده دتوهین او تحقیر د یوه لغات په توگه تری نه کار اخیستل کیدی . روسانو دافغانستان داشغال پروخت هم ددوی پرضد جهادی مقاومت دباسماچی پنامه یاداوه او شوروی پلوه واکدارانو یی په دری ژبه ودغو مقاومت کوونکو ته اشرار ویل . ( ژباړونکی )

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.